مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۳/۱۲/۰۴

# «فرهنګ»

## ښکلی بڼ، که وحشي ځنګل؟

ټول منو، چې زموږ په فرهنګ کې منفي ښکارندې شته، خو د هغو په وړاندې څه ویل په خلکو بده لګیږي .
دا د (دودپالني و نومهالپالني = سنت او مودرنیتي) خورا زړه دیالکتیکي لانجه ده، هر لوری خپل پلویان لري او د هر لوري پلویان خپل پریمانه دلایل.

ښايي له سلګونو کلونو رادېخوا موږ خپلې معصومې نجونې په بدو کې ورکوو، پر خور و لور ولور اخلو، زمکه ناموس ګڼو او پر یوه لوېشت پوله تربور وژنو ...

دا ټول موږ ته مقدسات ایسي، ځکه وایو (زموږ فرهنګ) دی.

د نړۍ په لرې پرتو ځنګلونو کې داسي بومي قبایل شته، چې انسانان خوري، د خپلې قبیلې هر پیر او ګنهکار ژوندی ژوندی کبابوي او خوري یې، هر پردی، چې ورشي، خوړل کیږي او هر بوډا، چې فکر کیږي مرګ یې نږدې دی، هم د نورو خوراک شي. د نارینهوو د ورانه و کوناټیو او د ښځو د تیو غوښه د قبیلې د مشر حق دی.

دوی وایي: دا زموږ فرهنګ دی او هېڅوک حق نه لري د پلرونو له مقدس فرهنګ څخه سرغړاوی وکړي.
موږ، چې انسانان نه خورو تر هغوی مدني او موډېرن خلک یو، موږ ته د هغوی استدلال څنګه ښکاري؟
تاسو په دې اړه څه فکر کوئ؟

هېڅوک دا نه مني، چې د فرهنګ ځینې برخې یې منفي او ناانساني دي.

موږ لاهم شډل او خیرن سرې تر ټولو ښه پېنټون بولو. هغه پښتون چې د خپلو وږیو او محرومو ماشومانو د یوې اونۍ ډوډۍ په یوه وخت مېلمه ته ورکوي، مېلمه پال ګڼو.

موږ په ډېرو ستونو مېلمه ټنډ کړو او بیا مو یوه میاشت ماشومان وچه ډوډۍ موندلای نهشي، دې ته مېلمهپالنه وایو او که مو په دې اړه څه وویل له فرهنګي تکفیر سره مخامخیږو.

زه یې په ټینګار وایم، چې زموږ په فرهنګ کې داسي منفي ښکارندې کمې او پهوړاندې یې ارزښتونه زیات او عالي دي.

کیسه بله ده، موږ لا دغه مهم ټولنیز قرارداد پېژندلی او منلی نهدی، چې په یوه ټولنیز مختیايي Evolutionary بهیر کې د خپل فرهنګ منفي برخې تشخیص او هېرې کړو او پرځای یې له نړیوال او د ټول بشریت له ګډ فرهنګ څخه مثبت ارزښتونه راخپل کړو.

دا موږ ته نه ښکاري، خو یوه لویه تاریخي، ټولنیزه او ملي ربړه ده.

ټول مدني ارزښتونه «غربي» بولو، ښکنځو یې، خو په دې دوښمنۍ کې رینتیني نه یو، په ډېر منافقت یې بیا کاروو هم.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

خپلي دوديزې - تاريخي بڼکلي جامې (ګردلمنې) نه پيژنو، هېرې مو دي. له هيندي مسلمانانو راغلي څاکوالي جامې خپلي ملي و ديني جامې ګڼو او پتلون و دريشي بڼکنځو.

د اميرشېرعلي خان په زمانه کې له کشميري سندرغاړو سره راغلي چادرۍ د خپلو ښځو ملي يونيفورم ټاکو او فکر کوو، چي دا زموږ فرهنګ دی.

جهل، بېسوادي او بېوزلي د خپلو نيکونو ميراث بولو. فکر کوو دا مو فرهنګ دی، په ښوونځي کې کيميا، فيزيک، بيولوژي، رياضيات، بشرپوهنه و ارواپوهنه کفري او لويديزې پوهني ګڼو، دعوا کوو، چي که دا ښې وای، نيکونو به مو لوستلي وې.

خامخا به پوښتئ، چي حللاره څه ده؟

د فرهنګي تکامل په اړه پراخ مطالعات شوي دي. څو معيارونه يې ورته ټاکلي:

۱ -هرهغه څه چي ستاسو او ستاسو د ټولنې د هوسا انساني ژوند لپاره ګټور وې.

۲ -هغه څه چي ستاسو هويتي ځانګړنه (تشخص) تر نورو څرګندوي او ستاسو د انساني ژوند شرايطو ته تاوان نه پېښوي،

۳ -هر هغه څه چي نورو ته د ښکلاخوښوني (ايستيتيک) له نورمونو سره سم ښکلي ايسي.

۴ -هر هغه څه چي نور يې د ورخپلولو هڅه وکړي، ځکه د هغو په وسيله تاسو تر نورو ممتاز او غوره برېښئ.

۵ -هر هغه څه چي په مادي او معنوي توګه تر پرون ستاسو نن او تر نن مو سبا هوسا کولای شي. مړه ګېډه، هوسا ژوند او رواني و ذوقي سکون دربښلی شي.

او داسي نور ارزښتونه په حقيقت کې ستاسو غوره فرهنګي ارزښتونه دي.

اتڼ، لنډۍ، ګڼ کميسونه، د ښځمنو درناوی، ګډ کورنی ژوند او په زرګونو نور داسي يې بېلګي وګڼئ.

خو د دې پرځای په پينځه جريبه کرنيزه زمکه د پخڅو دولسګزه لوړه کلا ودانول او په برجونو کې د تربورډارولو په پار تيرکشونه جوړول منفي فرهنګي عادت دی. هغه کلا چي برجونه يې له هرځايه ښکاري، خو دننه په کې د لاس مينځلو صابون، روغتيايي تېټۍ او انساني ژوند شرايط نه شته او ښځينه هم ډېران ته ځي...

هغه کلا چي د پينځو خروار غنمو زمکه پرې خرابه شوې ده، په منځ کې يوه نيالګی نه شته، خو په ديوالونو يې په شنه رنګ ونې رسم شوې دي...

د جوړېدو منطق يې د تربور او سيال په وړاندې ځانښوونه او سيالي ده، هغه سيالي و تربورګلوي، چي موږ يې د خپل فرهنګ برخه ګڼو او پرې وياړو.

فرهنګ يو سمسور او ښکلی بڼ دی، چي که ونه پالل شي، اغزي و زقوم تر خيشاوه نهشي، په يوه وحشي ځنګله بدليږي. د دغه ځنګله خروړې ليوان و خونړي پړانګان په دې مقدس مهګنئ، چي ستاسو د نيکونو ميراث دي.

دا انسانخوړونکي مو نازولي بچيان درڅيرلی شي.

**ويښتيا، روښانتيا او بدلون**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ